# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ مجله

پنځلسم کال، ۱۷۵ مه ګڼه د ۱۴۰۰ کال د سلواغې میاشت



## د اسلامي مالي او بانکي نظام ګټې

# اسلامي بانکوالي

اسلامي بانکوالي د اسلامي شریعت او قواعدو پر بنسټ ولاړ بانکي سیستم دی چې د تشبثاتو، سوداګرۍ او د اسلامي بانکوالۍ د ودې او اشخاصو او تشبثاتو د مالي اړتیاوو د پوره کولو لپاره بانکي خدمتونه او محصولات وړاندې کوي.





## د ګڼې لړلیک / مطالب مجله


د افغانستان د سوداګریزو شرکتونو او پانګه‌والو ټولنې له استازو سره غونډه

تدویر جلسهٔ به رهبری سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با هیئت مدیره عزیزی بانک

تدویر جلسه مشترک با مسوولان د افغانستان برشنا شرکت و نمایندگان بانک های تجارتی

د سوداګریزو بانکونو له استازو سره د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا په اړه غونډه

د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو د پراختیا په اړه د پوهاوي غونډه

بورد نظارت شرعی د افغانستان بانک تدویر جلسه نمود

د اسلامي مالي او بانکي نظام ګټې

سیر تحول بانکداری الکترونیک در افغانستان

په بانکوالۍ کې د خطر مدیریت

عواقب وخیم مصرفگرایی

بشري مرستې اقتصادي خوځښت رامنځته کوي

حرکتی بسوی نقطه وصل ترانزیت منطقه و جهان

کانونه؛ د افغانستان د روښانه راتلونکې لپاره یو ښه زیری

اقتصادي خبرونه

د ادواینو بیلانس (Balance of Payments)

پر نړیوال اقتصاد د کډوالۍ اغېزې

چگونگی اقتصاد زراعتی

د ښه اقتصاد لرلو لپاره ساده ګامونه



بانک

د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، جواد سداد او مفتي عبدالله آخندزاده

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسئول مدیر: حسیب الله نوري

خبریال: عبدالحفیظ شاهین

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوټوژورنالیست: زیرک ملیا

پته: د افغانستان بانک

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube    twitter.com/AFGCentralbank    www.facebook.com/AFGCentralbank

# د افغانستان د سوداګریزو شرکتونو او پانګه والو ټولنې له استازو سره غونډه







۱۴۰۰ د سلواغې ۳ مه – د افغانستان بانک د سرپرست رئیس ښاغلي عبدالقاهر (حاجي ادریس) پر مشرۍ د افغانستان د سوداګریزو شرکتونو او پانګه‌والو ټولنې له استازو سره د دوی د بانکي ستونزو د هواري په اړه غونډه جوړه شوه.

په یاده غونډه کې د افغانستان بانک سرپرست د افغانستان د سوداګریزو شرکتونو او پانګه‌والو ټولنې له استازو سره په خبرو کې وویل چې د افغانستان بانک مشرتابه ژمن دی چې د سوداګرو او پانګه‌والو لپاره هر ډول بانکي آسانتیاوې برابرې کړي.

ښاغلي عبدالقاهر ( حاجي ادریس) د سوداګرۍ او پانګې اچونې په برخه کې د سوداګرو او پانګه‌والو له هڅو ستاینه وکړه او زیاته یې کړه چې د افغانستان بانک به پر وخت سره په بانکي سکتور کې د سوداګرو ستونزو ته رسېدنه وکړي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان د سوداګریزو شرکتونو او پانګه‌والو ټولنې استازو د بانکي سکتور په برخه کې خپلې ستونزې د افغانستان بانک له سرپرست سره شریکې کړې او په دې اړه د نظرونو تبادله تر سره شوه.

# تدویر جلسه به رهبری سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با هیئت مدیره عزیزی بانک





۱۳ دلو ۱۴۰۰ – هیئت رهبری د افغانستان بانک به ریاست محترم عبدالقاهر (حاجی ادریس) با هیئت مدیره عزیزی بانک تدویر جلسه نمود. طی این جلسه چگونگی فعالیت های عزیزی بانک و ارائه تسهیلات بانکی از سوی این بانک به بحث گرفته شد.

محترم حاجی ادریس سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک وجود سیستم بانکی را در انکشاف اقتصادی کشور بسیار مهم دانست و از رهبری این بانک خواست تا خدمات و تسهیلات لازم بانکی را به مردم ارائه نمایند.

متعاقباً رهبری عزیزی بانک نیز به نوبه خویش صحبت نموده، تعهد نمودند که در زمینه عرضه خدمات بانکی بهتر و تسهیلات لازم در این زمینه در تمام نقاط کشور تلاش خواهند کرد.

لازم به ذکر است که د افغانستان بانک به عنوان بانک مرکزی و ناظر بر فعالیت های بانک های تجارتی کشور همواره تلاش نموده است که برای مردم شریف کشور خدمات لازم بانکی را ارائه نماید.

# تدویر جلسه مشترک با مسوولان د افغانستان برشنا شرکت و نمایندگان بانک های تجارتی



۱۸ دلو ۱۴۰۰ – جلسه ای به ریاست محترم نور احمد آغا معاون اول د افغانستان بانک با مسئولین د افغانستان برشنا شرکت و نمایندگان بانک های تجارتی برگزار گردید.

در این نشست در مورد انتقال پول د افغانستان برشنا شرکت توسط بانکهای تجارتی و ایجاد تسهیلات لازم بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم نور احمد آغا معاون اول د افغانستان بانک حین سخنرانی افتتاحیه مجلس گفت که د افغانستان بانک در پرتو قوانین و مقررات بانکی متعهد به همکاری در این راستا بوده و از بانک های تجارتی خواست که در زمینه فراهم آوری سهولت های لازم با د افغانستان برشنا شرکت همکاری کنند.

در این جلسه مسوولان د افغانستان برشنا شرکت تذکر دادند که این شرکت متعهد به ارائه خدمات بیشتر در زمینه برق رسانی به هموطنان عزیز می باشد و ابراز امیدواری نمود که در بخش بانکی نیز تسهیلات لازم ایجاد شود.

لازم به ذکر است که نمایندگان بانک های تجارتی نیز تعهد سپردند که در این خصوص و جمعآوری پول از مشتریان با د افغانستان برشنا شرکت همکاری لازم خواهند نمود.

# د سوداګریزو بانکونو له استازو سره د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا په اړه غونډه



۱۴۰۰ د سلواغې ۱۷ مه– د افغانستان بانک د دویم مرستیال ښاغلي عبدالقدیر احمد پر مشرۍ په هیوادکې د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا غونډه جوړه شوه.

په یاده غونډه کې ښاغلي عبدالقدیر احمد وویل چې د افغانستان بانک په هیوادکې د اسلامي بانکوالۍ پراختیا ته ژمن دی او کولای شي د دې برخې د پراختیا لپاره د سوداګریزو بانکونو لپاره اړینې آسانتیاوې رامنځته کړي. نوموړي د افغانستان بانک سره په دې برخه کې د سوداګریزو بانکونو همکاري هم د ارزښت وړ یاده کړه.

د دې غونډې په اوږدو کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اسلامي بانکوالۍ د څېړنې مرکز مشر ښاغلي مفتي ابو سعید راشد د اسلامي بانکوالۍ پر ارزښت خبرې وکړې او د دې بانکوالۍ پراختیا یې د هیواد او خلکو په ګټه یاده کړه. نوموړي زیاته کړه چې د اسلامي بانکوالۍ د څېړنې مرکز د نظام او بانکونو تر منځ د پُل حیثیت لري او غواړي چې له دې لارې په هیوادکې د اسلامي بانکوالۍ د ودې او پراختیا لپاره کار وکړي.

په دې غونډه کې د افغانستان د بانکونو د ټولنې مشرتابه او د سوداګریزو بانکونو استازو په هیوادکې د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا په اړه د همکارۍ ژمنه وکړه او په دې اړه یې خپلې ستونزې او وړاندیزونه د غونډې له ګډونوالو سره شریک کړل.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د دویم مرستیال او د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اسلامي بانکوالۍ د څېړنې مرکز پر مشر سربېره د افغانستان د بانکونو د ټولنې او سوداګریزو بانکونو استازو او د افغانستان بانک د یو شمېر آمریتونو کارکوونکو هم ګډون کړی وو.

# د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو د پراختیا په اړه د پوهاوي غونډه









۱۴۰۰ د سلواغې ۲۴ مه — د افغانستان بانک د لومړي مرستیال ښاغلي نور احمد آغا پر مشرۍ د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو د پراختیا په اړه د افغانستان بانک د بېلابېلو آمریتونو له آمرینو سره د پوهاوي غونډه جوړه شوه.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال د غونډې په پیل کې یادونه وکړه چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې په هیوادکې د بانکوالۍ له پراختیا سره د شریعت په رڼا کې مالي خدمتونه وړاندې کړي.

نوموړي د خپلو خبرو په بله برخه کې له فساد سره مبارزه، په چارو کې همغږي او په وخت سره د کړنو تر سره کول د ارزښت وړ اصول یاد کړل او د بانک له کارکوونکو یې وغوښتل چې یادو اصولو ته جدي پاملرنه وکړي.

باید یادونه وشي چې په یاده غونډه کې په هیوادکې د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو د پراختیا په اړه د غونډې له ګډونوالو سره هر اړخیز معلومات شریک شول او د نظرونو تبادله تر سره شوه.

د افغانستان بانک پر بانکي سکتور د هیواد د مقرراتي او څارونکي بنسټ په توګه درنو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو د پراختیا په برخه کې به له هیڅ ډول هلو ځلو دریغ و نه کړي او د هیوادپه اقتصادي وده کې به خپل مثبت رول تر سره کړي.

# بورد نظارت شرعی د افغانستان بانک تدویر جلسه نمود








۳۰ دلو ۱۴۰۰ - جلسهٔ بورد نظارت شرعی د افغانستان بانک به رهبری محترم نور احمد آغا معاون اول د افغانستان بانک تدویر گردید که در آن روی موضوعات مختلف مربوط به بانکداری اسلامی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم نور احمد آغا معاون اول د افغانستان بانک طی سخنرانی افتتاحیه گفت که امارت اسلامی افغانستان متعهد به رشد و توسعه بانکداری اسلامی در کشور است و در زمینه از هیچگونه تلاش و همکاری با بورد نظارت شرعی دریغ نخواهد ورزید.

محترم نور احمد آغا همچنان افزود که کار در مورد ایجاد تکافل در کشور جریان دارد که با به وجود آمدن آن بانکداری اسلامی بیشتر از هر وقت دیگر توسعه خواهد یافت و مردم با اطمینان کامل به سرمایه گذاری در آن رو خواهند آورد.

لازم به ذکر است که در این جلسه پالیسی مضاربه یک تعداد بانکهای تجارتی و سایر موارد مرتبط به بانکداری اسلامی مرور و به بحث گرفته شد.

# د اسلامي مالي او بانکي نظام ګټې

بانکونه د اسلامي قانون یا شریعت په چوکاټ کې د وخت اړتیا ده چې هره اسلامي ټولنه په اقتصادي ډګر کې هغو ته لېواله ده. بانکونه د خلکو مالي معاملات په آسانه او ساده توګه تر سره کوي او هم یې شتمنۍ ته پراختیا او وده ورکوي.

وروستي معلومات ښیي چې اسلامي مالي او بانکي سیستم دا مهال په نړیوال مارکېټ کې د ودې او پرمختګ په حال کې دی. په تېرو څو کلونو کې د اسلامي مالي سیستم شتمنۍ تر ۳.۵ تریلیون ډالرو اوښتې او ۴۲۸ شاوخوا اسلامي سوداګریز بانکونه شتون لري.

د افغانستان ۹۹ سلنه وګړي چې مسلمانان دي، په سود کې د اخته کېدو له وېرې د بانکونو پر ځای خپلې پیسې له ځان سره ساتي. دغه کړنه د پیسو خوندي ساتلو لپاره یو ګواښ دی او په ټولنه کې د غلا او جرمونو لامل کېدلای شي. له دې پرته، دغه چاره د اقتصاد له نظره د یوه هیواد پر اقتصادي وضعیت منفي اغیز هم لري، حتی اسلام د پیسو او نورو سرچینو د نه لګولو او یا له ځان سره د بیځایه ساتلو سره همغږي نه لري او د هغې پر لګولو او په کار اچولو یې ټینګار کړی دی.

»



په دې مقاله کې په لاندې ډول د اسلامي مالي او بانکي نظام د ګټو په اړه معلومات وړاندې کیږي:

**د مالي عدالت اصل**

په اسلامي مالي او بانکي نظام کې هر څه د عدالت پر بنسټ تر سره کیږي. دودیز بانکي نظام په سود ولاړ دی او د مال په خطر کې شریک نه دی، خو په اسلامي مالي او بانکي نظام کې د هرې برخې عدالت په پام کې نیول شوی چې د قرارداد ګټه او زیان د دواړو لورو ترمنځ شریک دی. دې اصل ته په کتلو سره ویلای شو چې د اسلام مالي او بانکي نظام تر بل هر نظام غوره او د ټولنې په ګټه تمامیدلای شي.

**د مالي خدمتونو پراختیا**

نړیوال بانک د مالي خدمتونو پراختیا داسې تعریفوي: "مالي خدمتونو ته په آسانه او ارزانه بیه د خلکو او کاروباري شرکتونو لاسرسي ته د مالي خدمتونو پراختیا وایي" په دې خدمتونو کې لیږدونې، اداینې، سپما، کریډېټ، بیمه او نور اړوند مالي خدمتونه شامل دي.

په اسلامي بانکدارۍ کې سود نشته او ټولې معاملې په دې نظام کې د اسلامي شریعت د اصولو پر بنسټ تر سره کیږي. دې ټکي ته په کتلو سره ویلای شو چې د اسلامي مالي او بانکي نظام د مالي خدمتونو د پراختیا په برخه کې د ارزښت وړ رول لوبوي او کولای شي له دې لارې خلکو ته د مالي خدمتونو د پراختیا په برخه کې زیاتې آسانتیاوې رامنځته او د سپما لپاره لاره برابره کړي.

**له فساد او جرمونو مخنیوی**

هر انسان هڅه کوي چې په ټولنه کې له شته سرچینو خپله برخه ترلاسه کړي. په یوه ټولنه کې د فساد او جرمونو تر ټولو لوی لامل د ټولنې د وګړو ترمنځ د سرچینو غیر عادلانه وېش دی، ځکه چې محرومیت جرایم زیږوي.

د اسلامي بانکدارۍ سیستم د (خیرات حساب) او داسې نورو ورته آسانتیاوو (تولیداتو) په واسطه د سرچینو په وېش کې خورا مهمه ونډه لري.

د اسلام په اقتصادي نظام کې زموږ د ټولنیز ژوند یو مهم اصل چې هغه د ټولنې له بې وزلو سره مرسته کول دي، راژوندی کیږي. همداراز، اسلامي بانکونه خلکو ته د دې توان ورکوي چې د خپلې خوښې توکي له سود پرته په آسانه او د میاشتنیو قسطونو په ادا کولو تر لاسه کړي.

لنډه دا چې؛ اسلامي بانکونه کولای شي د سرچینو د وېش او مالي ملاتړ او بېلابېلو آسانتیاوو له لارې په یوه ټولنه کې د فساد او جرمونو کچه ټیټه وساتي چې دا چاره له فساد او د جرمونو له رامنځته کېدو څخه مخنیوی کوي.

**د ټولنې خیر او ګټې**

په سودي بانکونو کې د پور ورکولو بنسټیز شرط د پېرودونکو توان یا د پور بېرته ادا کولو وړتیا ده، دوی ته دا مهمه نه ده چې پېرودونکي یې له دوی څخه په پور اخیستې پیسې چیرته او څرنګه لګوي آیا حلال کاروبار پرې کوي او که حرام؟آیا د پېرودونکو کاروبار یې د ټولنې لپاره ګټور دی او که نه؟ ځکه هغوی ته مهمه دا ده چې پېرودونکي یې په ټاکلي وخت سود او اصلي پیسې بېرته ورکړي.

د اسلامي بانکونو تګلاره داسې نه ده، هر اسلامي بانک خپله شرعي کمېټه یا (Shariah Board) لري، دغه بورډ یوازې د هغو پېرودونکو مالي حمایت لپاره موافقه کوي چې حلال او ټولنې ته د خیر کاروبار ولري.

**د فقر له منځه وړل**

په اوسني عصر کې ځینې خلک د زکات ټولولو نظریو ته د یوه خیال او نه عملي کیدونکې چارې په سترګه ګوري. خو اسلامي بانکونه په آسانۍ سره کولای شي دغه کار ته په خپل جوړښت کې عملي بڼه ورکړي او یا هم د (Facilitator) په توګه له اړوند حکومتي ادارو لکه د حج او اوقاف وزارت سره د زکات په راټولو کې مرسته وکړي.

د بېلګې په توګه که چېرې اسلامي بانکونه د زکات په نامه یوه منظمه څانګه پرانیزي، لومړنۍ دنده به یې دا وي چې خلکو ته د زکات اهمیت څرګند کړي. په اسلامي ټولنه کې د فقر ختمولو لپاره د ونډې اخیستنې روحیه رامنځته کړي، د زکات ورکولو ثواب او نه ورکولو ګناه یا شرعي وعیدونه په ګوته کړي او همدا راز د زکات په اړه پوره عامه پوهاوی رامنځته کړي. »

دویمه دنده به یې د زکات راټولو لپاره منظم ترتیب وي، یو له دغه ترتیبونو څخه د بانکي حساب له لارې د زکات راټولول دي، داسې چې هر اسلامي بانک خپلو پېرودونکو ته د حساب پرانیستلو پر مهال د منظم زکات ورکولو اختیار یا (Option) ورکړي. نو کله چې پېرودونکي په بانکونو کې حسابونه پرانېزي له دوی دې و پوښتل شي چې:

آیا غواړئ چې بانک ستاسو له حساب څخه کلنی زکات وضع کړي؟ هو ☐ نه☐

که چیرې د زکات په اړه لازم پوهاوی رامنځته شوی وي او همدا راز خلکو ته د اسلامي بانکونو لخوا د زکات مال د مصرف په اړه قناعت ورکړل شوی وي، نو پورته پوښتنې ته به د ډېرپېرودونکو ځواب (هو) وي.

د دغې څانګې دریمه دنده به د زکات د مال د مصرف په اړه پېرودونکو ته قناعت ورکول وي دا که د حج او اوقاف وزارت له لارې وي او یا خپله د اسلامي بانک له لارې، باید د زکات مال د مصرف لپاره اغېزناک او منظم پلانونه جوړ شي، ترڅو د زکات ورکوونکو قناعت حاصل وي او هر څوک وکولای شي چې په ډاډه زړه خپل زکات په منظم ډول اسلامي بانکونو ته ورکړي.

اسلامي بانکونه کولای شي د زکات څانګې لګښتونه هم د زکات له پیسو څخه ورکړي، ځکه په قرآنکریم کې د زکات مستحقینو له ذکر څخه چې اته کسان دي یو هم (وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا) هغه څوک دي چې د زکات راټولولو لپاره ګومارل شوي وي.

لنډه دا چې د زکات څانګې پرانیستلو په واسطه اسلامي بانکونه کولای شي په یوه اسلامي ټولنه کې فقر له منځه یوسي او هم د سرچینو په وېش کې خپله ونډه ولري.

**د زیان رسوونکو محصولاتو او کړنو د اغیزو کمول**

په اسلامي مالي او بانکي نظام کې د شرکتونو ټول هغه فعالیتونه چې د شخص یا ټولنې د زیان لامل کېږي بند دي. د بیلګې په ډول لکه سود، قیاس، قمار او نور... اسلامي مالي او بانکي نظام ځکه دا توکي بند کړي چې په اسلامي شریعت کې حرام دي او د خلکو د زیان لامل کېږي. دې ټکي ته په کتلو سره ویلای شو چې په اسلامي مالي او بانکي نظام کې زیان کم دی او خلک په ډاډ سره کولای شي دې برخې ته مراجعه وکړي.

**د پانګې اچونې هڅونه او ثبات**

په اسلامي مالي او بانکي نظام کې تر ډېرو شننو او ارزونو وروسته پانګې اچونې تر سره کېږي. په دې نظام کې داسې کمپنۍ او کاروبارونه په ګوته کېږي چې کم خطر ولري او د چارو د پرمختګ لپاره یې د خطرونو تر هر اړخیزو څېړنو وروسته عملي کېږي.

پورته ټکو ته په کتلو سره لیکلای شو چې اسلامي مالي او بانکي نظام د ذکر شویو موضوعګانو تر څنګ اقتصادي چټکتیا رامنځته کوي او زیات شمېر نورې ګټې هم لري چې عملي کول یې دنیوي او اخروي ګټې له ځان سره لري.

لیکنه او راټولونه: ح-ن


سرچینې:

۱- د اسلامي بانکدارۍ ټولنیزې ګټې | حشمت الله عتید / https://tatobaynews.com/archives/42672

۲- په افغانستان کې د اسلامي بانکدارۍ تاریخي شالید او پرمختګ/ لیکوال: دکتور مصطفی نیازی

3-https://pajhwok.com/ps/opinion/historical-background-of-islamic-banking-in-afghanistan/ 5advantages of Islamic Finance/ Hasan Waqar

4-https://www.linkedin.com/pulse/5-advantages-islamic-finance-hassan-waqar / Benefits of Islamic Banking/ Humanizing Finance/ July 2017

5-https://info.maybank2u.com.sg/eb/2017/humanising-finance/what-is-islamic-banking-jul.html / Advantages Of Islamic Banking

6-https://www.emiratesislamic.ae/eng/corporate-banking/advantages-of-islamic-banking/Number of Islamic banks worldwide in 2019Published by/ AmnaPuri-Mirza/ Research Expert covering the Middle East/ Nov 19, 2021

7-https://www.statista.com/statistics/1090895/worldwide-number-of-islamic-banks-by-type/

# سیر تحول بانکداری الکترونیک در افغانستان




رشد و گسترش تکنالوژی ارتباطات روش های کارکرد افراد، نهاد های مختلف و دولت ها را دگرگون ساخته و در پرتو آن صنایع نوین، مشاغل جدید و خلاقیت در بخش های مختلف زندگی به میان آمده است. در پی رشد تکنالوژی ارتباطات در کشور، ظهور پدیده های چون بانکداری الکترونیک، کسب و کار الکترونیک، تجارت الکترونیک و غیره از نتایج عمدهٔ گسترش تکنالوژی اطلاعات در ابعاد مختلف اقتصادی است. اما عرصهٔ به کار گیری بانکداری و تجارت الکترونیک افغانستان در حدی است که رسیدن به وضعیت مطلوب راه درازی در پیش دارد.

دسترسی تعداد زیادی از مردم افغانستان به شبکهٔ جهانی انترنت و همچنان »

گسترش ارتباطات الکترونیک بین افراد و نهاد های مختلف از طریق انترنت یا دنیای مجازی بستر خوبی مراودات اقتصادی به بار می آورد.

استفاده از انترنت، موجب توسعۀ تجارت، تسهیل ارتباطات عوامل مهم اقتصادی، فراهم آوری امکان فعالیت برای شرکت های کوچک و متوسط، کاهش مصارف و صرفه جویی در زمان می گردد. تکنالوژی معلوماتی امکان افزایش قابلیت رقابت پذیری شرکت های مختلف فراهم آورده و منجر به ایجاد شغل جدید شده و بر اثر گسترش این تکنالوژی حجم تجارت و بانکداری در کشور روز بروز در حال رشد است.

یکی از وسایل عمده و اساسی برای تحقق و گسترش تجارت الکترونیک در کشور وجود بانکداری الکترونیک است که دوشادوش و همگام با سیستم های پولی ومالی جهانی عمل کرده و فعالیت های تجارت الکترونیکی راآسان می سازد.

در حقیقت می توان گفت که تحقق تجارت الکترونیک، وابسته به تحقق بانکداری الکترونیک است. به همین علت استفاده از سیستم های الکترونیک در موسسات مالی و اعتباری کشور به سرعت رو به گسترش بوده و تعداد استفاده کنندگان سیستم بانکداری الکترونیک روز بروز رو به افزایش است.

افغانستان در عرصۀ تجارت و بانکداری الکترونیک در آغاز این مرحله قرار دارد و تا رسیدن به سطح عالی راه درازی در پیش دارد. در شرایط کنونی، تهیۀ زیر ساخت های مورد نیاز در بانک های کشور از ضروریاتی است که باید مورد توجه مسوولان امور قرار بگیرد.

بطور خلاصه، کسب و کار الکترونیک نتیجۀ ترکیب از فعالیت ها و زنجیره های بازار با استفاده از تکنالوژی های مرتبط با ابزار انترنت است که در ذیل بطور خلاصه بیان می گردد.

ویژ گی ها و مزایای تجارت الکترونیک در افغانستان عبارت اند از جهانی شدن تجارت افغانستان، حذف محدودیت های زمانی و مکانی برای تجارت کشور، افزایش درصد فروش، دسترسی آسان به اطلاعات لازم، کاهش مصارف معاملات و غیره می باشد. تجارت الکترونیک در افغانستان به سفارش دادن و سفارش گرفتن محدود نشده، بلکه فعالیت های دیگر تجارتی نظیر تبلیغات، آ گاهی، قرارد داد ها، تسویۀ حساب و غیره را در بر می گیرد.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

۱- رونق تجارت الکترونیک در افغانستان/ تاریخ نشر : ۲ / ۱۱/۱۳۹۲ 2014/01 › https://www.bbc.com BBC News -

۲-بانکداری الکترونیکی - بلی افغانستان/ https://yes.af › electronic-banking

۳-همکارارشد بانکداری الکترونیکی و موبایل/ تاریخ نشر: ۳/ ۴/ ۱۴۰۰ https://www.acbar.org



# په بانکوالۍکې د خطر مدیریت

په عاید کې د هر ډول نوسان (ځپ ځپاندتیا) راتګ ته خطر ویل کېږي. یا په بل عبارت په عاید کې د کمښت راتګ یا هم د پانګې له لاسه ورکولو احتمال ته خطر وايي. د بلې هرې سوداګرۍ په شان بانکونه هم له خطرونو سره مخ کېدای شي. دا چې بانکونه خطر څرنګه مدیریت کوي او کوم ډولونه لري په دې مقاله کې يې په اړه په لاندې ډول معلومات وړاندې کیږي.

په سوداګریزو بانکونو کې د خطر د مدیریت ډولونه:

**اعتباري خطر (Credit risk)**

د پور ورکول د ډېرو بانکونو له بنسټیزو فعالیتونو شمېرل کیږي. بانکونه چې کله د پور غوښتونکو ته پور ورکوي اړینه ده چې د پور اخیستونکي د پور د بېرته ورکړې د وړتیا په اړه فکر وکړي. په دې پوروونو کې د دې امکان شته چې پور اخیستونکي یاد پور ورنکړي او یا يې ور نه شي کړای، چې دا په بانکونو کې د کریډیټ د خطر په نوم یادېږي. دا چاره کولای شي د نقدینګۍ جریان قطع کړي او یا هم د پور د راټولولو لګښتونه لوړ کړي.

**د هیواد په کچه خطر او د پیسو د لیږد خطر (Country risk and funds transfer risk)**

نړیوال پوروونه سربېره پر دې چې د کریډیټ خطرلري (هغه خطر چې د پور د عملیاتو په ذات کې شتون لري) د هیواد په کچه هم خطر لري. یعنې هغه خطرونه چې د پور په اخیستونکي هیواد پورې تړلي دي، هم شامل دي لکه اقتصادي، ټولنیز او سیاسي چاپیریال. کله چې په نړیواله کچه دا ډول پوروونه هیوادونو یا نړیوالو ادارو ته ورکول کېږي د دې امکان شته چې د هیواد په کچه خطر رامنځته شي، ځکه دا ډول پوروونه په معمولي ډول له پشتوانې (سټې) پرته ورکول کیږي.

«

**د بازار خطر (Market risk)**

یو بل ډول خطر چې بانکونه ور سره مخ کیږي په بازارونو کې د توکو په بیو کې د نوسانونو راتګ دی. د بازار د خطر یوه ځانګړې برخه د مبادلې د نرخ خطر هم دی. دا خطر هغه وخت رامنځته کیږي چې په بازارونو کې د ځینو عواملو (رکود) له کبله پانګه‌اچونه را کمیږي، دې خطر ته سیستماتیک خطرهم وایي.

**د ګټې د نرخ خطر (Profit rate risk)**

د ګټې د نرخ خطر د یو بانک د هغو مالي سرچینو څخه عبارت دی چې د ګټې د نرخ پر خلاف حرکت کوي. دا خطر هم د بانک پر ګټې، د اقتصادي پانګې پر ارزښت، پورونو او توکو باندې اغېزه کوي.

**د سیالیت خطر (Liquidity risk)**

د سیالیت یا نقدینګۍ خطر هغه وخت رامنځته کیږي، چې یو بانک د خپلو پورونو د را کمولو او شتمنیو د زیاتوالي وړتیا و نه لري، معنا دا چې بانکونه په کافي اندازه پیسې و نه لري، ترڅو د هغې له لارې خپل پورونه را کم کړي (یا هم له معقولو لارو په پانګو اچونو سره زیاته ګټه تر لاسه کړي.) پورته ټکو ته په کتلو سره ویلای شو چې کله بانکونه د سیالیت له ستونزې سره مخ کیږي د دې امکان هم شته چې بانکونه دیوالي (Bankrupt) شي. د دې لپاره چې یاده ستونزه رامنځته نه شي بانکونه اړ دي چې دې ټکي ته پوره پام ولري.

**عملیاتي خطر (operational risk)**

د عملیاتي خطر تر ټول مهم ډول په داخلي کنټرول کې د ستونزو موجودیت دی. کېدای شي په دې برخه کې د تېروتنو، سرغړونو، درغلی، په دندو کې د ټنبلی او یو شمېر نورو عواملو له لارې رامنځته شي او د بانک ګټو ته زیان ورسوي. په همدې ډول ویلای شو چې عملیاتي خطر د معلوماتو په سیستم کې د ستونزو، اورلګېدنې او نورو عواملو له لارې هم رامنځته کېدای شي.

بانکونه اړ دي چې یادو ټکو ته پام وکړي او اجازه ور نه کړي چې له یادو ستونزو سره مخ شي او له وړاندې باید د دې ډول ستونزو د مخنیوي لپاره تدابیر ولري.

**حقوقي خطر (Legal risk)**

بانکونه د بېلابېلو حقوقي خطرونو سره مخ کېدای شي. په حقوقي خطر کې د غلطو مشورو، نامناسبو یا غلطو حقوقي مستندونو پر بنسټ له ټاکل شوي حد څخه پورونه په لوړ ارزښت او شتمنۍ په کم ارزښت سره ارزول کېږي. پر دې سربېره د دې امکان هم شته چې په دې برخه کې داسې موضوعګانې رامنځته شي چې شته قوانین د هغو له حل څخه عاجز وي او یا هم و نه شي کولای له حقوقي پلوه یې حل کړي.

**د شهرت خطر (Reputation risk)**

د شهرت ساتنه د بانکونو لپاره ډېر اړین امر دی. دا چې بانکونه ډېری وخت د پور ورکولو فعالیتونه تر سره کوي او د خلکو امانتونه ساتي په کار ده چې خپلې چارې په پوره دقت سره مخته یوسي او په عملیاتي چارو کې د ضعف مخنیوی وکړي او په دې سره د شهرت له خطر سره مخ نه شي.

حسیب الله نوري

---

سرچینې:

Risk Management in Banking: Introduction/ Risk Management In Banking [Complete Guide]

https://www.logicmanager.com/resources/erm/risk-management-in-banking/

Banking imperatives for managing climate risk/ June 1, 2020 | Article

https://www.mckinsey.com/business-functions/risk-and-resilience/our-insights/banking-imperatives-for-managing-climate-risk

https://www.ibena.ir/news/85800/%D8%A7%D9%86%D9%88%D8%A7%D8%B9-%D8%B1%DB%8C%D8%B3%DA%A9-%D9%87%D8%A7%DB%8C-%D8%A8%D8%A7%D9%86%DA%A9%DB%8C

# عواقب وخیم مصرفگرایی

مصرف در لغت به معنای خرج کردن و اصالت دادن به رفاه و دارایی مادی است، بیشتر دانشمندان مصرف گرایی را به معنای برابر دانستن خوشبختی انسان با خرید اشیای مادی گرفته اند. در این پروسه دنیای غرب از اخلاق تولیدی به اخلاق مصرفی روی آورده اند و بر اساس آن جامعه غرب از جامعه تولیدی به جامعه مصرفی تبدیل شده است. بعد از کشور های غربی، کشور های توسعه نیافته نیز بر اساس تبلیغات کشور های غربی به جامعهٔ مصرفی مبدل شدند.

در گذشته ها شرایط طوری بود که اول مردم کالا های مورد ضرورت خود را می خریدند بعداً به خرید کالاهای دیگر حسب توان شان اقدام می نمودند. بعداً رفته رفته بر اساس تبلیغات از طریق رسانه های جمعی در نگرش مردم در مورد زندگی شان تغییرات وارد شده و مردم در پی هرچه بیشتر مصرف کردن شدند.

در شرایط کنونی، بوسیلهٔ تبلیغات، از طریق وسایل جمعی، در نگرش مردم تغییرات بوجود آمد، مردم آمادهٔ هرچه بیشتر مصرف گردیدند، نظام سرمایه داری در این صورت از رسانه ها به عنوان وسیلهٔ ابزاری برای آماده سازی بستر های مصرف گرایی، قشر های تحصیلکرده و متوسط را هدف خود قرار داد. »



در سیستم مصرف گرایی افراد و اشخاص بدون در نظرداشت نیاز واقعی به خرید می پردازند، در بیشتر اوقات، آنها قادر به کنترول خرید بدون ضروری خود نمی باشند. تا جایی که روان شناسان این نوع مصرف گرایی را یک نوع بیماری دانسته و می گویند باید این گونه بیماری تداوی شود.

در افغانستان موضوع مصرف گرایی را می توان به عنوان یک پدیدهٔ جدید در دوران موجودیت قوت های خارجی در جریان دو دههٔ گذشته ریشه یابی کرد. آثار منفی آن به روند اتلاف منابع اقتصادی و منحرف کردن منابع از ظرفیت های تولیدی، عوارض گستردهٔ اقتصادی، اجتماعی و سیاسی گستردهٔ را برای جوامع در حال توسعه و رشد نیافتهٔ کشور داشته و مسیر رشد و توسعهٔ کشور را منحرف ساخت.

دانشمندان اقتصادی به این نظر اند که، مصرف گرایی دارای دو لبه بوده که یک آن عبارت از واردات کالا های مصرفی بی رویهٔ غیر ضروری است که ضمن تغیر فرهنگ مردم، با نابودی اقتصاد نیز می انجامد. لبهٔ دیگر آن پیامد های خطرناک جدی در پی دارد که آن هم عبارت از آسیب های اجتماعی می باشد که مستلزم شناخت علمی یا به عبارت دیگر عبارت از برنامه ریزی است.

از اینکه مصرف گرایی یک پدیدهٔ جهانی است و حل آن هم بُعد داخلی و بین المللی دارد. برای جلو گیری از مصرف بی رویه، در مرحله اول به اصلاح الگوی مصرف کشور خود نیاز داریم که باید برای اصلاح آن برنامه ریزی شود. متأسفانه در شرایط کنونی مردم باز هم به مصرف بیشتر ترغیب شده به خرید کالا های لوکس خارجی رو می آورند. در این مورد باید کیفیت کالا های داخلی بالا برده شود تا مردم به مصرف آنها روی آورده و به تولید و فرهنگ داخلی تشویق شوند.

با توجه به رشد مصرف گرایی و تأثیرات روان شناختی آن در جامعه چنین به نظر می رسد که عوامل مختلف مانند توسعهٔ شهر نشینی، شیوهٔ فعالیت رسانه ها، تغییرات در فرهنگ عمومی در گسترش فرهنگ مصرف گرایی تأثیر گذار بوده است. مصرف گرایی به معنی اصالت دادن به مصرف و رسیدن به رفاه مادی است. این امر در جامعه آثار متعدد روانی، اقتصادی، سیاسی، تبدیل ثروت به ارزش، نمایش ثروت، نابرابری اجتماعی، شکاف طبقاتی، احساس محرومیت و غیره را در جامعه می گذارد.

مصرف گرایی یک نیاز کاذب بوده، اما متاسفانه در تعاملات اجتماعی بر اساس تغییر ارزش معنوی بسوی ارزش مادی برایش جا پیدا کرده، به عنوان یکی از روش های برجستهٔ هویت فردی عرض اندام می کند که بعداً خود را با طبیعت مبتنی بر بازار های اقتصاد جامعه همگام و سازگار می سازد.

در جوامع مُدرن، سطح گروه های اجتماعی متفاوت است، در چنین جوامع مصرف گرایی شامل خرید کردن، خوردن، سرگرمی، مُد، دانش، خدمات و غیره نیز می شود.

منابع:

۱-عواقب تلخ مصرف گرایی/ تاریخ نشر / ۱۶ / ۲/ ۱۳۹۱ https://hawzah.net › Article

۲-راهکارهای مقابله با مصرف گرایی چیست؟ - تاریخ نشر: ۱۵ / ۷ / ۱۴۰۰ https://setare.com › news ›.

۳-راهکار های طلایی برای دوری از مصرف گرایی - باشگاه خبرنگاران / تاریخ نشر : ۵/ / ۱۳۹۷۶ ttps://www.yjc.news

# بشري مرستې اقتصادي خوځښت رامنځته کوي

د آسیا پراختیایي بانک له افغانستان سره ۴۰۵ میلیونه امریکایي ډالره بشري مرسته تصویب کړه. دغه بانک د سلواغې په پنځمه په یوه اعلامیه کې ویلي چې دا مرستې به په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مېشتو بشري بنسټونو لخوا د خوړو، امنیت، روغتیا او پوهنې په برخو کې ولګول شي.

د معلوماتو پر بنسټ له دغه پیسو څخه ۱۳۵ میلیونه ډالر به د خوړو نړیوال پروګرام او ۶۵ میلیونه نور به د کرنې سازمان ته ورکړل شي، تر څو ۸۰۰ زره اړمنو کسانو ته لومړني خوراکي او ۳۹۰۰۰۰ کورنیو ته کرنیز توکي چمتو کړي.

د اسیا پراختیایي بانک ویلي چې له یادو پیسو څخه به د روغتیایي او ښوونیزو خدمتونو لپاره ۲۰۰ میلیونه امریکایي ډالر یونیسف ته هم ورکړل شي.

یاد بانک ویلي چې یونیسف به وتوانیږي چې په دغه پیسو سره شاوخوا ۵,۲ میلیونه کسانو ته روغتیایي مرستې ورسوي او همدارنګه د زده کړو ۱۰ازره کلیوال ټولګي به هم سمبال او تقویه کړي.



افغانستان ته له ټولو اصولي لارو د بشري مرستو راتګ نیک ګام دی او کولای شي په هیواد کې اقتصادي خوځښت رامنځته کړي. تمه ده چې د نړیوالو هیوادونو او بنسټونو له لوري به له افغانستان سره د بشري مرستو سربېره په بنسټیزو برخو کې هم مرستې وکړي او د هیواد د اقتصاد په بنسټیزه رغونه کې به خپل مثبت رول ولوبوي.

موږ د هر هغه نیک اقدام څخه چې د افغانستان له خلکو سره د مرستې، اقتصادي وضعیت د ښه والي، زیربناؤ جوړولو لپاره زمینې برابرولو او زموږ د خلکو لپاره د دندو رامنځته کولو لامل کېږي، هر کلی کوو او د نړۍ له هیوادونو او نړیوالو مالي بنسټونو څخه په دې برخه کې د لا زیاتو همکاریو غوښتنه لرو.



# حرکتی بسوی نقطه وصل ترانزیت منطقه و جهان

امارت اسلامی افغانستان تلاش دارد که افغانستان را به نقطه وصل کشورهای منطقه مبدل سازد. معلومات وزارت خارجه کشور نشان میدهد که قرار است کار خط آهن ازبکستان - افغانستان و پاکستان در بهار سال آینده آغاز گردد. این یک حرکت خوبی برای پیشرفت اقتصادی کشور و منطقه می باشد. افغانستان که از لحاظ موقعیت جغرافیایی در جایگاه خوبتری نسبت به کشورهای منطقه می باشد می تواند به نقطه وصل ترانزیت منقطه و جهان مبدل گردد و لازم است که امارت اسلامی افغانستان در زمینه توجه بیشتر به خرج دهد.

افغانستان که از جمله کشورهای محاط به خشکه می باشدجهت رفع ضروریات خود نیاز به راه های تجاری بیشتری دارد تا در کنار راه های موجود با سایر کشورهای همسایه وصل گردد و از این راه بتواند که کالاهای مورد نیازخود را وارد و برعکس کالاهای تولیدی کشور را به سایر کشورها صادر و عواید خوبی را جهت تأمین مصارف عادی و انکشافی خود بدست آورد.

از اینکه توسعه ترانزیت کالاها میان کشور ها از اهمیت زیادی برخورداراست، باید سعی صورت گیرد تا راه های دیگری نیز جستجو شود و در کنار دیگر منابع عایداتی، منابع جدید درآمد برای کشور ایجاد و درآمد های اسعاری افزایش یابد. ورود اسعار به کشور زمینه تطبیق بهتر سیاست های پولی را مساعد ساخته و توسعه تجارت و رونق اقتصادی را به همراه خواهد داشت.

# کانونه؛

## د افغانستان د روښانه راتلونکي لپاره ښه زیری









افغانستان د جیولوژیکي جوړښت او جغرافیایي موقـعیت له اړخه په هغو هیوادونو کې راځي چې پراخه طبـیعي زېرمې لري. دا زېرمې د افغانستان په ټولو ولایتونو کې شـتون لري چې په متوازنه توګه یادې زیرمې د عوایـدو پـه دوامـداره راټولېدو او تر لاسه کولو کې خورا مهم ارزښت لري.

د کانونو او پټرولیم وزارت د معلومات پر بنسټ د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې بډایه کاني ظواهر یا شـواهد موجود دي او که په دې برخه کې پانګه اچونه وشي او نړیوال پانګه وال دې برخې ته راجلب شي لیرې نـه ده چې افغانستان بـه د نړۍ په کچه د غوره اقتصاد لرونکو او سـترو صادرونکو هیوادونو په کتار کې راشي.

بـاید یادونه وشـي چې د اسـلامي امارت له راتګ سـره د افغانستان د کانونو د راسپړنې په بـرخه کې هلې ځلې زیاتې شـوې دي، چې ښکاره بـېلګه یې په بېلابـېلو ولایتونو کې قراردادیانو ته د کانونو د قراردادونو ورکړه او داوطلبۍ ته د زیات شمېر نورو کانونو تګ په ګوته کولای شو. دا چاره د هیواد د اقـتصادي ودې او پرمختګ لپاره یو ښه زیری دی او کولای شي د افغانستان د روښانه راتلونکې لپاره لار پرانیزي.

په ټول کې باید وویل شي چې افغانسـتان د بـډایه کانونو لرونکی دی او د کانونو په بـرخه کې پانګه اچونه د پر ځان بسیاینې په لور ښه ګام دی چې په دې بـرخه کې پانګه اچونه هیواد ته د اسـعارو د راتګ زمینه برابـروي او دا چاره کولای شي چې په ښه ډول د پولي سیاست په تطبـیق کې هم مرسـته وکړي.

# اقتصادي خبرونه

## امریکا یو شمېر مالي او مرستندویه ادارو ته په افغانستان کې د بیا فعالېدو اجازه ورکړه

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لخوا په یوه اعلامیه کې راغلي چې؛ امریکا په افغانستان کې یو شمېر مالي او مرستندویه ادارو ته د دې لپاره د فعالېدو اجازه ورکړې چې، افغانانو ته يې کټه ورسېږي.د دې اجازې له مخې د بشري مرستو رسوونکې اداري کولای شي چې افغانستان ته نغدي پیسې د بشري مرستو په موخه ولېږدوي.دغه راز مالي او مرستندویه ادارو ته ویل شوي چې کولای شي د خپلو چارو لپاره له بانکي سیستم نه هم کار واخلي.

مالي مرستندویه اداري، شخصي کمپنۍ او هغه دولتي بنسټونه چې د عامه خدماتو په برخه کې فعالیت کوي؛ د ورکړل شوي اجازې له مخې کولای شي چې د بانکي سیستم له لارې پیسې افغانستان ته ولېږدوي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لخوا اعلامیه زیاتوي چې شخصي او سوداګریز فعالیتونو، د بنسټیزو چارو د ترسره کولو، سوداګرۍ، خوندیتابه، ترانسپورت او مخابراتي اسانتیاوو لپاره مالي اداري، نادولتي موسسې، نړیوال سازمانونه او شخصي کمپنۍ کولای شي چې د امریکا لخوا بندیزونو ته په پام سره افغانستان ته پیسې ولېږدوي.

دامریکا د بهرنیو چارو وزارت لخوا د اعلامیې په پای کې راغلي چې امریکا له افغانانو سره په داسې حال کې ولاړه ده چې غواړي خپل اقتصاد بېرته ورغوي.

## تاکید ملل متحد بر ضرورت سیستم فعال بانکی در افغانستان

دیبرا لاینز، نمایندۀ ویژۀ منشی عمومی سازمان ملل متحد در افغانستان در دیدار با مقام های بانک مرکزی افغانستان بر ضرورت سیستم فعال بانکی در افغانستان تاکید کرده است.

بانک مرکزی افغانستان گفته که در این نشست خانم لاینز تاکید کرده است که ملل متحد به کمک‌های نقدی‌اش به مردم افغانستان ادامه می‌دهد.

خانم لاینز افزوده است که آنان تلاش دارند که با ادارات مختلف در مورد بهبود مراودات بانکی افغانستان گفتگو کنند، تا بتوانند به راحتی کمک‌های بشردوستانۀ خود را به مردم این کشور ادامه دهند.

هیات معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) در این مورد گفته است: "دیبرا لاینز نماینده خاص سرمنشی ملل متحد برای افغانستان به نقشی که یک سکتور فعال بانکی در کمک های بشردوستانه و توانایی افغان ها برای دسترسی به پول شان جهت تهیه غذا برای خانواده‌های خود و پیشبرد کسب و کار دارد، اشاره نمود".

در این دیدارمحترم حاجی محمد ادریس، سرپرست د افغانستان بانک ضمن قدردانی از کمک‌های بشردوستانۀ ملل متحد برای افغانستان، خواستار تداوم این کمک‌ها به مردم این کشور شده است او گفته است که ملل متحد باید کمک های نقدی خود را از طریق "سکتور بانکی" انجام دهند.

## یونیسف: برای حمایت مالی از آموزگاران افغان به ۲۵۰ میلیون دالر نیاز است

صندوق وجهی سازمان ملل متحد برای اطفال (یونیسف) می گوید که برای پشتیبانی مالی از هزاران آموزگار در افغانستان به ۲۵۰ میلیون دالر نیاز است.

یونیسف با نشر اعلامیه‌ای گفت که به هدف حمایت های اضطراری از میلیون‌ها کودک برای ادامۀ تعلیم و تربیه آنان در »

افغانستان، قرار است برای۱۹۴هزار آموزگار در این کشور کمک مالی کند.

یونیسف افزوده است که قرار است در دو ماه پیش‌رو، برای هر آموزگار در سراسر این کشور، به مبلغ ۱۰۰ دالر پرداخت کند.

در اعلامیه آمده است: "این پول از سوی اتحادیه اروپا تمویل می‌شود. تمام معلمین مکاتب دولتی ابتدایی، ثانوی، نهادهای تخنیکی و مسلکی و مراکز تربیه معلم (دارالمعلین‌ها) شامل این برنامه می‌شوند".

محمد ایویا، نماینده یونیسف در افغانستان نقش آموزگاران را در تداوم آموزش و پروش کودکان در سراسر این کشور مهم عنوان کرده و گفته است آنان خرسند اند که در حال حاضر، حمایت‌های اضطراری را برای معلمان مکاتب دولتی افغانستان فراهم می‌کنند.

او افزوده است: "یونیسف به ۲۵۰ میلیون دالر اضافی نیاز دارد تا بتواند به حمایت از معلمان مکاتب دولتی ادامه دهد و از کمک کنندگان می‌خواهیم که ما را در تامین مالی این طرح حیاتی یاری کنند. این یک اقدام ضروری برای امکان دست‌رسی مداوم به آموزش برای دختران و پسران است".

صندوق وجهی سازمان ملل متحد برای اطفال افزوده است که یونیسف به تلاش‌هایش در راستای بهبود و تقویت بخشیدن سیستم تعلیمی افغانستان ادامه می‌دهد. این صندوق اضافه کرده که آنان برای حمایت از تعلیمات محلی، توزیع مواد درسی،یادگیری و آموزش آموزگاران و به ویژه آموزگاران زن در این کشور متعهد اند.

یونیسف تاکید کرده است که روند نظارتی سخت‌گیرانهٔ را برای توزیع پول نقد برای آموزگاران در افغانستان روی دست گرفته که تثبیت هویت و حضور آموزگاران در مکاتب شامل آن می‌باشد.

در اعلامیه همچنین آمده است: "در حدود ۸.۸ ملیون طفل در مکاتب دولتی افغانستان شامل شده اند. در حال حاضر بحث و مشورت دربارهٔ پلان گذاری و پشتیبانی از بازگشایی مکاتب برای تمام اطفال اعم از پسران و دختران بعد از رخصتی های زمستانی جریان دارد".

این در حالی است که روز گذشته مقامات وزارت معارف حکومت طالبان گفتند که صندوق وجهی سازمان ملل متحد برای کودکان، دو ماه معاش آموزگاران را در کابل و ولایات می‌پردازد و برای هر معلم تا پایان سال روان میلادی، ۱۰۰ دالر معاش ماهانه در نظر گرفته است.

عزیز احمد ریان، رییس نشرات و سخنگوی این وزارت به صدای امریکا گفت که این روند برای ۴۰ هزار آموزگار در کابل، لوگر و میدان وردک آغاز شده و در نظر است که این برنامه در سایر ولایات نیز گسترش یابد.

---

سرچيني:

۱- https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-60535419

۲- https://www.darivoa.com/a/un-has-provided-2-billion-dallar-in-aid-to-afghanistan-in-the-past-six-months/6456856.html

۳- صدای امریکا

# د ادواینو بیلانس
# (Balance of Payments)

د ادواینو بیلانس یا (BoP) له بهرنیو هیوادونو سره د ټولو پولي راکړو ورکړو د ثبت او صورت حساب څخه عبارت دی. نوموړی صورت حساب د حسابدارۍ د غبرګ ثبت(double entry) اصل له مخې د یوې ټاکلې مودې لپار جوړیږي.

هغه اداینې چې نورو هیوادونو ته کیږي په ډبیټ Debit اړخ کې او هغه اداینې چې له نورې نړۍ څخه مونږ ته صورت نیسي په کریډېټ اړخ کې ثبتیږي. په یاد بیلانس کې دا چارې یوازې د یوې کرنسۍ پر بنسټ ثبت او راجستر کیږي.

**د ادواینو په بیلانس کې شامل توکي:**

سوداګریز حسابونه: د اداینو د بیلانس په یاده برخه کې د یو هیواد صادرات او واردات ثبتیږي. کله چې د یوهیواد د صادراتو د ارزښت څخه د نوموړي هیواد د وارداتو ارزښت کم کړل شي لاس ته راغلې کچه د یو هیواد د سوداګرۍ د بیلانس په نوم یادیږي. د اداینو د بیلانس یاده برخه کې هم د یوهیواد د صادراتو او وارداتو بیلانس یا د سوداګرۍ بیلانس Trade Balance سنجول کیږي.

دا چې د صادراتو په لړ کې نور هیوادونه مونږ ته اداینې کوي، ځکه خو د اداینو په بیلانس کې صادرات کریډېټ اړخ او واردات چې د نورو د توکو او چوپړونو ( خدمتونو) په مقابل کې زمونږ اداینې دي په ډبیټ اړخ کې ثبتیږي.

که د دوو هیوادونو تر مینځ د پورته یادو شوو توکو راکړه ورکړه د ادواینو د بیلانس په وسیله محاسبه شي، نو درې ډوله پایلې به ولري. یا به د راکړو او ورکړو ارزښت سره مساوي وي چې دا مطلوبه پایله ده، یا به د بهرنیو هیوادونو سره د راکړې ورکړې په لړ کې د یوهیواد له لوري تر لاسه شوی ارزښت د لاس څخه د وتلي ارزښت څخه کم وي چې دې ته د ادواینو د بیلانس کسر وایي او یا به هم ترلاسه شوی مبلغ د لاسه وتلي مبلغ څخه زیات وي چې نوموړي حالت ته بیا د اداینو او سوداګرۍ د بیلانس ډېروالی Surplus وایي.

پرمختللي هیوادونه د خپلو کار تمامو او لګښتي توکو د صادرولو له امله د نړیوالې سوداګرۍ په برخه کې تل د سوداګرۍ او اداینو د surplus بیلانس لرونکې وي؛ خو دا چې د مخ پر ودې هیوادونو صادرات لومړني توکي او خام مواد دي، ځکه خو د نوموړو توکو په بدل کې دغه هیوادونه دومره ډیرڅه نه ترلاسه کوي چې د کار تمامو او پانګه ایزو وارداتي توکو په مقابل کې د خپلوادواینو د بیلانس انډول وساتلای شي.

په مخ پر ودې هیوادونو کې هغه هیوادونه چې د نفتو صادروونکې وي یا هغه هیوادونه چې OPEC بلل کیږي، نسبتاً د اداینو مطلوب بیلانسونه لري. »



**پانګه‌ایزیا سرمایوي حسابونه:** د اداینو د بیلانس د پانګه‌ایزو حسابونو په برخه کې د پانګونې اړوند حسابونه او راکړې ورکړې ثبت او رسول کېږي. په دغه برخه کې بهرنی پانګونه او د اوږد مهالو او لنډ مهالو پورونو راکړه ورکړه شامله ده. په دغه برخه کې هم که د کریډېټ څخه مو ډېبېټ زیات وي، نو د ادواینو بیلانس به مو د کسر سره مخ وي او که کریډېټ مو د debit څخه زیات وي، نو د ادواینو انډول یا بیلانس به مو زیات وي.

**د بهرنیو اسعارو زېرمه یا ریزرف:** د ادواینو د بیلانس بله برخه د بهرنیو اسعارو د زېرموڅخه عبارت ده. دغه زېرمې د تل لپاره د نړۍ د مشهورو او ځواکمنو اسعارو لکه ډالر، پونډ، یورو او نورو زېرمې وي. د هیوادونو سره د بهرنیو اسعارو زېرمې کټ مټ د یو وګړي د نغدو پیسو د زېرمو سره ورته دي داسې چې که وګړي د اقتصادي راکړو ورکړو په ترڅ کې باقي کېږي، نو نوموړې زېرمه یې کمه او که ګټه کوي، نو د نغدو پیسو زېرمه یې لا پسې ډېرېږي.

په همدې ډول که یو هیواد د خپلو ادواینو د بیلانس په پورتنیو دوو یادو شوو حسابونو (سوداګریز او پانګه ایز) کې ګټه کوي، نو د بهرنیو اسعارو زېرمې یې زیاتې او بلایه کېږي خو کله چې پورتني یاد شوي حسابونه د کسر سره مخ وي، نو د دغه کسر او کمبود د مخنیوي او له منځه وړلو په موخه د بهرنیو اسعارو زېرمې کارول کېږي او په دې سره په نوموړو زېرمو کې کموالی راځي. یادونه باید وکړو چې د بهرنیو اسعارو زېرمې د کورنۍ پولي واحد د تبادلې د نرخ د ثابت ساتلو په موخه کارول کېږي.

د ادواینو د بیلانس کسر په دې معنا دی چې یوهیواد په نړیوال اقتصاد کې هغه څه چې باید تادیه کړي یې وو نه ادا کوي. دا هغه څه دي چې د ادواینو بیلانس یې د کسر یا زیان په بڼه ښیي یعنې کله چې د یو هیواد بیلانس د کسر سره مخ وي، نو دا په دې مانا ده چې نوموړی هیواد د هغو توکو او خدمتونو څخه چې په کور دننه یې تولیدوي زیات مصرف لري.

هیوادونه یاد اضافه توکي او کالي د نورو هیوادونو څخه واردوي. همدارنګه د ادواینو د بیلانس کسر دا هم ښکاروي چې د یو هیواد د پانګې ستره برخه د دې پر ځای چې په کور دننه وکارول شي بهرنۍ نړۍ ته لیږدول کېږي. لومړنی حالت یعنې د کورنې تولید څخه زیات مصرف د ادواینو د بیلانس د جاري حسابونو (صادراتو او وارداتو) اړوند او دویم حالت یا په بهر کې د کور دننه څخه ډېره پانګونه د ادواینو د بیلانس د پانګه ایزو حسابونو اړوند ده.

**څه شی د ادواینو د بیلانس د نا انډولۍ لامل کېږي؟**

**د صادراتو ډېروالی:** دا ډوله هیوادونه د خپلو صادراتو غبنتلي کولو او ډېر والي ته ځانګړې پاملرنه کوي او د صادراتو تقویه کول د نوموړو هیوادونو د اقتصادي ستراتیژۍ په سر کې ځای لري. په همدې موخه دا ډول هیوادونه خپل تولیدات ډېروي او د لویې کچې د تولید یا economy of scale څخه هم ګټه اخلي.

**بهرنی پانګونه:** د یو هیواد د صادراتو پرمختګ نوموړي هیواد ته د بهرنی پانګونې بهیر راماتوي چې په پایله کې یې له بهر څخه نوموړي هیواد ته په پراخه پیمانه پانګه داخلیږي.

**سپماوې:** د توکو او خدمتونو لګښتونه کموي چې له همدې امله د عاید ډېره برخه یې سپما کېږي. د چین وګړي په همداسې یو موقف کې دي. ځینې اقتصاد پوهان په دا ډول ټولنو نیوکه کوي او وایي چې د ادواینو د بیلانس ډېروالی د نړیوالې سوداګرۍ په مخ کې خنډ دی.

**تړلی اقتصاد:** ځینې هیوادونه په وارداتو لوړې تعرفې وضع کوي او یا هم د وارداتو د کموالي او مخنیوي لپاره د بېلابېلو لارو چارو څخه کار اخلي، طبیعي ده چې د وارداتو کموالی بهر ته د ادواینو د کموالي لامل کېږي او په دې سره د یو هیواد د ادواینو بیلانس ډېروالی کوي.

لیکنه او راټولونه: ح-ن

---


سرچینې:

د ادواینو بیلانس/ نصیر کوټوال

https://www.tolafghan.com/articles/19989

Balance of Payments (BOP)/ Will Kenton/ Updated December 01, 2021/ Reviewed by Michael J Boyle/ Understanding the Balance of Payments (BOP)

https://www.investopedia.com/terms/b/bop.asp

What is the 'Balance of payments' (BOP)? / Why are Balance of payments statistics important?

https://ec.europa.eu/eurostat/web/balance-of-payments



# پر نړیوال اقتصاد د کډوالۍ اغېزې

کډوالي یوه ټولنیزه اقتصادي پدیده ده چې په دې وروستیو کې یې د نړیوالو دولتونو او صنعتي سازمانونو پام ځانته اړولی دی. کډوالي او اقتصاد یو له بل سره نږدې اړیکي لري چې کله هم کډوالي پر اقتصاد او کله هم اقتصادي پرمختګ پر کډوالي اغېزې پرېباسي.

لکه څنګه چې کډوالي له پېړیو راهیسې دوام لري او ډېری خلک له یو هیوادڅخه بل هیواداو حتی له یوې لوېې وچې څخه بلې لویې وچې ته کډوال کېږي او هلته له سره خپل ژوند پیلوي، خو په دې وروستیو لسو کلونو کې د کډوالي په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی چې تر شا یې ډېری لاملونه لیدل کېږي.

کډوالي له اقتصادي او کلتوري پلوه ستونزمن کار دی او په دې توګه د نړۍ د نفوس خورا کمه برخه کډوال کېږي.

د کډوالي تر ټولو ستر لامل جګړې او نا امنۍ دي. په ډېری را غوړېدونکو او مخ پر ودې اقتصادونو کې د جګړو او ګډوډیو زیاتېدل د دې لامل شوي چې وګړي یې د پرمختللو اقتصادونو پر لور کډوالۍ ته اړ شي او هلته خوندي ژوند ولري.

په دې وروستیو کې، په سوریه، یمن، افغانستان، د منځني ختیځ او افریقا په ځینو هیوادونو کې د جګړو او ګډوډیو له امله د یادو هیوادونو زیات شمېر وګړي د ترکیې، جرمني، بریتانیا، امریکا متحده ایالاتو او نورو اروپایي هیوادونو پر لور کډوال شوي او دا بهیر په چټکۍ سره پر مخ روان دی.

همدا ډول، د کډوالۍ دویم ستر لامل په راغوړېدونکو او مخ پر ودې

»

اقتصادونو کې د نفوسو ډېروالی ګڼل کېږي. په یادو هیوادونو او په ځانګړې توګه، په سویلي آسیا، شمالي افریقا، منځني ختیځ، لاتیني امریکا او زیات شمېر افریقایي هیوادونو کې د نفوسو شمېر په چټکۍ سره د زیاتېدو په حال کې دی، چې دې چارې د کډوالۍ بهیر لا چټک کړی دی.

سربېره پر دې، بېوزلي او کم عاید، د ژوند د سطحې ټيټوالی، بېکاري او اقلیمي بدلونونه نور هغه عوامل دي چې له امله یې خلک دې ته اړ کېږي، څو پرمختللو هیوادونو ته کډوال شي او د لوړ عاید په درلودلو سره یې د ژوند سطحه لوړه او د ژوندانه اړتیاوې یې پوره شي.

د مک کینزي د نړیوال انسټیټیوټ د څېړنې پر بنسټ، له ۲۰۰۰ تر ۲۰۱۴ زیږدیز کال پورې د نړۍ د شاوخوا ۲۴۷ میلیونه کډوالو له ډلې شاوخوا ۹۰ سلنه یې په خپله خوښه یا د اقتصادي عواملو له کبله او پاتې ۱۰ سلنه یې د جګړو، ګډوډیو او نورو عواملو له امله کډوالۍ ته اړ شوي دي، چې ۵۰ سلنه یې له مخ پر ودې هیوادونو څخه د پرمختللو هیوادونو په لور کډوال کېږي.

سربېره پر دې، د دغو کډوالوپه ورتګ سره د پرمختللو او مخ پر ودې هیوادونو د کاري ځواک په وده کې له ۴۰ تر ۸۰ سلنې پورې زیاتوالی راغلی دی. د دې ترڅنګ، کډوالو په نړیواله کچه په ناخالصو کورنیو تولیداتو کې په سلو کې ۹.۴ سلنه (۶.۷ تریلیونه امریکایي ډالره) ونډه لرلې ده. کډوالي له اقتصادي پلوه تر ډېره د ګټورتیا او د کاري ځواک د ودې په زیاتوالي کې مثبت رول لري او د چټکې اقتصادي ودې لامل کېږي.

له بلې خوا، د کډوالۍ په منفي اغېزو کې د لنډ مهال لپاره د عامه خدمتونو لکه روغتیا او زده کړو په وړاندې کولو کې کموالی، د بې کارۍ د کچې زیاتوالی، د کډوالو په مسلکي زده کړو او روزنه باندې زیات لګښت، د مارکېټ لپاره د نویو پالیسیو او همدا راز د کډوالو د تنظیم او ترتیب پالېسیو په جوړولو زیات لګښت ښودل شوی دی.

په پرتلیزه توګه، لیدل کېږي چې پر نړیوال اقتصاد د کډوالۍ د منفي اغېزو په پرتله مثبتې اغېزې زیاتې دي، او په دې توګه ویلای شو چې کډوالي په لنډ او اوږد مهال کې د نړیوال اقتصاد او په ځانګړې توګه په کوربه هیوادونو کې د اقتصادي ودې لپاره اغېزناکه تمامیدای شي.

له همدې کبله، اټکل کېږي چې د پرمختللو هیوادونو پر لور د کډوالو ورتګ په راتلونکي کې زیاتوالی ومومي، نو اړینه ده چې د کډوالو د تنظیم او شته ننګونو د مخنیوي لپاره په نړیواله کچه د هیوادونو ترمنځ همغږي رامنځته شي او په دې برخه کې د کډوالۍ د تنظیم د پالېسیو ترڅنګ د کار د آزاد او فعال مارکېټ پالېسۍ هم جوړې شي.•

ژباړه او راټولونه:



توحیدالله صافی

د افغانستان بانک د ژباړې د بورد غړی

سرچینې:

1. World Economic Outlook-*The Great Lockdown*. International Monetary Fund. April 2020.
2. Global Migration Impact and Opportunity. Mckinsey Global Institute.
3. International Migration Regimes and Economic Development by Robert E.B Lucas -2005

# چگونگی اقتصاد زراعتی

اقتصاد زراعتی عبارت از استفادهٔ مؤثر از نباتات، درختان و دامداری است. همچنان می توان گفت که اقتصاد زراعتی عبارت از مجموعهٔ علوم و روش های است که عوامل عمده تولیدات زراعتی را مورد بحث و بررسی قرار می دهد. اقتصاد زراعتی، دهاقین را قادر می سازد تا با وسایل پیشرفته از مقدار زمینی که در اختیار دارندمنفعت بیشتر به دست آورند.

اقتصاد زراعتی، روی استفادهٔ مؤثر از زمین، تربیت نیروی انسانی متخصص و کار شناس که بتواند با تکیه بر دانش و اندوخته های علمی خود در عرصهٔ زراعت، به تهیه و تدوین طرح های اساسی توسعهٔ زراعتی بپردازد، متکی است.

با ازدیاد نفوس کشور ها، اقتصاد زراعتی مورد توجه جدی دانشمندان اقتصادی قرار گرفت. آنها در مورد ایجاد فابریکه های پروسس مواد غذایی، دامداری، ادویه سازی، تجارت میوهٔ خشک و تر، ایجاد تأسیسات محصولات نباتات صنعتی، تولید انواع محصولات آب میوه، روغن، بوره، تنباکو، پنبه، الیاف و غیره که در ساختن تکه باب از آن استفاده بعمل می آید، توجه بیشتر به خرج دادند. امروز اقتصاد زراعتی به شکل یک دانش مُدرن در جهان عرض اندام نموده، متخصصان زراعتی علاوه بر فعالیت های زراعتی، در این عرصه تحقیقات بیشتر را در بخش ترویج روی دست گرفته اند.

بخش زراعت به عنوان کهن ترین فعالیت های تولیدی در ادوار مختلف در روند رشد و توسعهٔ کشور های مختلف از اهمیت خاص برخوردا بوده و به عنوان منشأ توسعه یافتگی بسیاری از کشور ها، مازاد در تولید بخش زراعت مبنأ توسعه یافتگی و رشد اقتصادی شده است. روی همین علت، زراعت به عنوان یک فعالیت اقتصادی و وسیلهٔ امرارمعاش از اهمیت خاصی برخوردار است. بخش زراعت در روند رشد و توسعهٔ اقتصادی کشور های مختلف جهان، نقش عمده و اساسی را به عهده دارد که مهمترین آنها عبارت اند از تهیهٔ مواد خام صنایع و تأمین نیاز مندی های نیروی انسانی می باشد.

بررسی های روند توسعهٔ اقتصادی در کشور های مختلف جهان حاکی از آن است که کشور های توسعه یافته با تکیه بر ظرفیت بخش های زراعتی توانسته اند بر سلامت و امنیت غذایی شان کنترول داشته باشند. مسئولین کشور ها می دانند که هرگونه اختلال در روند تولید این بخش به طور مستقیم امنیت غذایی و

»



حتی سیاسی آن کشور ها را تهدید می کند.

کشور های توسعه یافته در مورد مصرف محصولات زراعتی ارگانیک و سالم توجه جدی داشته، توسعهٔ زیر ساخت های این بخش جهت تولید بیشتر و سالم تر موضوعی است که نمی توانند به سادگی از کنار آن بگذرند، آنها سعی می نمایند تا در این عرصه یک برنامه ریزی اصولی و هماهنگ داشته باشند. آنها با تغییر روش های تولید، کارایی مصرف آب، اصلاح بند ها و غیره موارد مربوطه، زراعت شان را توسعه بخشیدند. اصلاحات در بخش زراعت، باعث ایجاد شغل پایدار می گردد و از ظرفیت های افراد شاغل، به نحو بهتر در این عرصه استفاده بعمل می آید.

مردم افغانستان بیشتر زراعت پیشه اند، آنها در این عرصه زحمت می کشند، ولی تمام زحمات شان نظر به بعضی عوامل بی نتیجه و ناقص می باشد. از جمله بعضی عواملی که باعث بی نتیجه ماندن زحمات دهاقین میشوند عبارت اند از میکانیزه نشدن زراعت، عدم موجودیت نسل زود رس میوه، نرم شدن میوه در حرارت و وقت زیاد، و بعضاً در اثر نبود سردخانه ها میوه ها گندیده شده و به منبع امراض مبدل می شوند.

در بخش زراعت، مُدرن سازی شرط اول است. ماشین آلات در مدت زمان کوتاه کار زیاد را انجام می دهند. آب و هوای افغانستان برکشت و زراعت خیلی مناسب است، در صورتیکه افغانستان بتواند از آب و خاک خود در بخش زراعت استفادهٔ درست نماید، از تجارت محصولات زراعتی خود می تواند از نگاه اقتصادی، رشد قابل ملاحظهٔ داشته باشد.

بخش زراعت می تواند در توسعهٔ اقتصاد افغانستان نقش اساسی داشته باشد. موقعیت خوب جغرافیایی، تنوع آب و هوا برای کشت محصولات مختلف زراعتی، وجود نیروی کار مناسب در روستا ها و مراکز تولید، وجود مزیت های نسبی خدادادی در مورد محصولات با ارزش از قبیل زعفران، پسته، گیاهان دارویی، صنایع مرتبط به زراعت از مزیت های اند که افغانستان از آن می تواند بهره ببرد.

به گفتهٔ کارشناسان و فعالان بخش زراعت، مشکلات پس از تولید بازار و بازار یابی از مهمترین عوامل موجود در سر راه بخش توسعهٔ زراعت در کشور محسوب میگردد. توسعهٔ صادرات محصولات زراعتی مستلزم توجه بیشتر به موضوعات بازار و بازار یابی محصولات زراعتی است.

کمبود متخصصین در بخش زراعت تا حال سبب شده تا برنامه ریزی چندانی در این عرصه در بخش توسعهٔ صادرات و استفاده از مزیت های نسبی کشور صورت نگیرد. همچنان عدم هماهنگی میان تولیدکنندگان و صادرکنندگان، نبود استندرد های سلامتی در بخش محصولات تولید شده، عدم توجه به بازار یابی بین المللی برای صادرات محصولات زراعتی، کمبودکارشناسان و محققین در بخش زراعت از مهمترین مواردی اند که سکتور زراعت به آن مواجه بوده و توسعهٔ این بخش را به رکود یا تأخیر انداخته است. در گذشته بیشتر صادرات محصولات زراعتی کشور بر اساس آزمون و خطا صورت می گرفت، اما امروز روش های علمی در این عرصه وجود دارد که می توان از آنها برای تبدیل مزیت های کشور به فرصت های رشد و توسعهٔ اقتصادی بهتر استفاده کرد.●

عبدالحفیظ شاهین


منابع:

۱- ظرفیت های بالقوه سکتور زراعت میتواند در رُشد اقتصاد/ تاریخ نشر: ۱۶ / ۲ / ۱۳۹۷ › https://www.worldbank.org

۲-ایگاه زراعت در اقتصاد افغانستان / تاریخ نشر: ۱۱ / ۶ / ۱۳۹۲ – –۲BBC News / https://www.bbc.com › 2013/09

۳- تحقیق، ترویج و اقتصاد زراعت برکزار شد - ادارهٔ تعلیمات / تاریخ نشر / ۶ / ۵ / ۱۳۹۸ ... https://tveta.gov.af

# د ښه اقتصاد لرلو لپاره ساده ګامونه

په دې مقاله کې یو شمېر داسې لارو چارو په اړه معلومات وړاندې کېږي چې پر عملي کېدو سره یې تاسو کولای شئ ښه اقتصاد ولرئ او له اقتصادي پلوه ښه ژوند ولرئ. د اسلام مبارک دین پر کار کولو او خلکو ته پر خدمت ټینګار کړی دی. د اسلام ستر پیغمبر ص له فقر څخه پناه غوښتي ده چې دا د دې ټکي غوره ښکارندویي کوي چې په شتمنۍ کې دنیوي او اخروي ګټې شته، خو شرط یې دا دی چې دا شتمني له حلالې لارې ترلاسه شي او له دې شتمنۍ څخه په سمه او برابره لار کې کار واخیستل شي.

**په لاندې ډول داسې لارې چارې وړاندې کېږي چې په عملي کېدو سره به یې په خپل ژوند کې د مثبت بدلون څرګونه ووینئ:**

**موخه وټاکئ**

د هرې میاشتې په لومړیو او یا هم د میاشتې په پای کې کله چې تاسو خپله میاشتنۍ تنخواه تر لاسه کوئ، په همدې وخت کې یوه مشخصه بودیجه هدف وګرځوئ او د میاشتې تر پایه یا هم د بلې میاشتې تر لومړیو هڅه وکړئ چې تر ټاکلې

»



هدف ډېر څه غونډ کړئ. پام مو وي چې هېڅ وخت تر ټاکلې موخې کم څه را غونډ نه کړئ.

**زېرمه کول پیل کړئ ( نا اړين توکي مه اخلئ)**

دا په دې معنا نه ده چې تاسو خپلې اضافي پيسي را ټولې او زېرمه کړئ، بلکې زېرمه کول د اضافي لوازمو نه اخيستل او له ډېر لګښت څخه مخنيوی دی. بله ساده او د ارزښت وړ ټکی هم په دې برخه کې دا دی چې د کوچنيو پيسو (سکو) د زېرمه کولو لپاره يوه کوچنۍ خزانه وپېرئ او په هغې کې يې وساتئ د وخت په تېرېدو سره به تاسو د ليدنې وړ پيسې غونډې کړې وي.

**پيسې په ځيرکتيا سره ولګوئ**

په خپلو موخو تمرکز وکړئ، فکر او ذکر مو ټول داسې عيار کړی، چې څنګه کولای شئ د نااړينو څيزونو د پېرلو له هوس څخه نجات پيدا کړئ او پيسې مو په متفکرانه او هوښيارانه ډول ولګوئ.

**محصولاتي خدمتونه وړاندې کړئ**

يوه لار چې ډېرى شتمنو کسانو تجربه کړې ده هغه د خلکو لپاره د خدمت په موخه د يو محصول وړاندې کول دي. خلکو ته د خدمتونو پر وړاندې کولو سره پيسې لاسته راځي او هر څومره چې دا خدمتونه ډېرېږي په همغه کچه شتمن کېدو ته لاره هوارېږي.

د بېلګې په توګه که تاسو په هره برخه کې مهارت لرئ کولای شئ په همغه برخه کې بازار ته په کتلو سره توکي توليد کړئ او و يې پلورئ.

**پانګونه وکړئ!**

د شتمن کېدو لپاره تر ټولو غوره لار دا ده چې په پيسو باندې پانګونه وشي. نو د دې پر ځای چې د کور لپاره نا اړين توکي واخلئ او ځان ښکاره کړئ، غوره ده چې پر خپلو پيسو په اسهامو او نورو برخو کې پانګونې وکړئ او له خپلو پيسو د شريعت د قوانينو سره سم ګټه تر لاسه کړئ.

**کار و بار پيل کړئ**

د ځان لپاره د کار او بار پيلول د شتمن کېدو لپاره تر ټولو غوره پرېکړه ده، کله چې تاسو د خپل کار او بار خاوندان شئ او له دې لارې مناسبه ګټه تر لاسه کړئ کولای شئ په آرام فکر سره په نورو برخو کې هم پانګونه تر سره کړئ او له دې لارې ډېره ګټه هم تر لاسه کړئ.

**تړون وکړئ**

د هر کار تر پيل وړاندې حتی له خپلو دوستانو او آشنايانو سره قرارداد وکړئ او پر جزئياتو هوکړه وکړئ، دا کار د دې لپاره اړين دی چې کيدای شي ستاسو دوستان او آشنايان ستاسو د وړاندې شويو خدمتونو سره سم تاسو ته پيسې در نه کړي.

نو د دې لپاره چې په دې برخه کې له ستونزې سره مخ نه شئ دا کار تر سره کړئ. دا يادونه ځکه کېږي چې له هر چا د خدمتونو پيسې واخلئ او د شتمن کېدو پر وړاندې ټول خنډونه له وړاندې رفع کړئ.

**د خپلې موخې لپاره پلان جوړ کړئ**

که تاسو د شتمن کېدو هيله لرئ، نو په کار ده چې ټاکلې موخه ولرئ. کله چې تاسو موخه وټاکئ له دې لارې به وکولای شئ چې په خپل ژوند کې بې نظمي او بې برنامګي له منځه يوسئ او دې موخې ته د رسېدو لپاره مو د ژوند ټولې چارې عيارې کړئ. د بېلګې په توګه که ستاسو موخه د پيسو جمع کول وي له بېځايه لګښتونو ډډه کوئ او په پوره ځيرکتيا سره پيسې لګوئ.

»

**هغه کار چې مينه ور سره لرئ تر سره کړئ**

په کار ده چې تاسو له خپل کار سره مينه ولرئ. که له خپل کار او موخې سره علاقه و نه لرئ بريا ته د رسېدو لپاره ستاسو لاره ډېره اوږده او حتی نه ختمېدونکې وي. يعنې که تاسو غواړئ چې شتمن شئ داسې يو کار و بار پيل کړئ چې مينه ور سره لرئ دا چاره به تاسې موخې ته په رسولو کې ډېر ژر بريالي کړي.

**د مالياتو پر ورکولو غور وکړئ**

کله چې پيسې تر لاسه کوئ د هغې يوه برخه د ماليې په ډول دولت ته ورکول کيږي. تاسو کولای شي د مالياتو د ورکړې آسانه لارې چارې پيدا کړئ. د بېلګې په ډول د هرې مياشتې ماليات په وخت سره ورکړئ دا چاره کولای شي تاسو د کال په وروستيو کې له ډېرې ادائينې وژغوري او يا هم تاسو له جريمې ورکولو بچ کړي.

پر لګښتونو څارنه کولای شي ستاسو په ګټه کې ډېروالی رامنځته کړي، نو دې ټکي ته په کتلو سره ويلای شو اړينه ده چې د ژوند کوچني لګښتونه هم مديريت شي.

**پور مه اخلئ**

که غواړئ چې شتمن شئ حتی د کور اخيستلو او يا هم پانګې اچولو لپاره پور مه اخلئ. پور اخيستل آسانه دي، خو بېرته ورکول يې ډېر ستونزمن دي.

**د شتمنو کسانو مشورې واخلئ**

د شتمن کېدو لپاره داسې لاره غوره کړئ چې وکولای شئ پر بنسټ يې بريا تر لاسه کړئ. له تجربو يې ګټه پورته کړئ.

دا چاره کولای شي د بريا لپاره پر لور ستاسو لار خلاصه کړي.●

ليکنه: ح ن د خپرونو مديريت

سرچينې:


چند گام تا پولدار شدن

https://namnak.com/%D9%BE%D9%88%D9%84%D8%AF%D8%A7%D8%B1-%D8%B4%D8%AF%D9%86.p6632

How to Get Rich: 10 Steps to Successfully Become Wealthy/ By LindiaKibet/ April 16, 2021

https://www.gobankingrates.com/money/wealth/how-to-get-rich-simple-steps/

15Simple Steps To Becoming Rich You Need To Build Wealth/ May 14, 2021 / By Jon Dulin

https://www.moneysmartguides.com/steps-becoming-rich-build-wealth

# د پولي خدمتونو او صرافيو د شرکتونو جواز ورکولو په تړاو د افغانستان بانک اعلاميه!

د افغانستان اسلامي امارت کابينې د ۱۶ ګڼې او ۰۶/۱۰/۱۴۰۰ نېټې مصوبې او د افغانستان بانک عامل پلاوي د ۱۰۶ ګڼې او ۲۸/۱۰/۱۴۰۰ نېټې تصويب پر بنسټ؛ د پولي خدمتونو او صرافيو شرکتي جوازونه د مقرراتي شرايطو او يو لړ نورو شرايطو پر مټ کوم چې په دې ورستيو کې د افغانستان بانک لخوا وضع شوي، صادرېږي.

پر همدې بنسټ، ټول انفرادي صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي کولای شي د لاندې لارښوود پر بنسټ د پولي خدمتونو او صرافيو د فعاليت د شرکتي جواز د ترلاسه کولو په موخه د افغانستان بانک د جواز ورکولو مديريت ته مراجعه وکړي:

۱- هغه صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي چې د جواز د ترلاسه کولو لپاره يې مخکې غوښتنليکونه وړاندې کړي وي، اړ دي چې د دې خبرتيا د خپرېدو له نېټې څخه د ۱۴۰۰ کال د کب تر ۱۰ نېټې پورې د جواز د ترلاسه کولو لپاره د جواز ورکولو مديريت ته مراجعه وکړي.

۲- جواز نه درلودونکي صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي اړ دي چې د دې خبرتيا د خپرېدو له نېټې څخه د ۱۴۰۰ کال د کب تر ۱۰ نېټې پورې د جواز ورکولو مديريت ته مراجعه او خپل جوازونه ترلاسه کړي.

۳- هغه انفرادي صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي چې د جواز د اعتبار نېټه يې پای ته رسېدلې وي، اړ دي چې د دې خبرتيا د خپرېدو له نېټې څخه د ۱۴۰۰ کال د کب تر ۱۸ نېټې پورې د شرکتي جوازونو د ترلاسه کولو په موخه د جواز ورکولو مديريت ته مراجعه وکړي.

له همدې امله، د موضوع په تړاو د پولي خدمتونو ټولو وړاندې کوونکو او صرافانو ته خبر ورکول کېږي چې د پورته مودو په پام کې نيولو سره د جواز د ترلاسه کولو په موخه د افغانستان بانک د جواز ورکولو مديريت ته مراجعه وکړي. همدا ډول له ټاکل شوې مودې وروسته د بې جوازه صرافانو او د پولي خدمتونو له وړاندې کوونکو سره قانوني چلند کېږي.



# اعلامیه د افغانستان بانک در پیوند به تصمیم ایالات متحده امریکا در قبال ذخایر ارزی افغانستان

**۲۳ دلو ۱۴۰۰، کابل**

د افغانستان بانک منحیث بانک مرکزی افغانستان که مطابق به قانون حفظ و مدیریت ذخایر ارزی کشور را به عهده دارد، محتوای فرمان رییس جمهور ایالات متحده امریکا در مورد ذخایر ارزی د افغانستان بانک را که در ایالات متحده امریکا نگهداری میگردد، مطالعه نموده و پیرامون آن نکات ذیل را ابراز می دارد:

۱– اهداف ذخایر ارزی: ذخایر ارزی افغانستان به منظور تطبیق سیاست پولی، تسهیل تجارت با جهان و استحکام نظام مالی کشور حسب قانون و مقررات مربوطه استفاده می گردد.

۲– مالکیت ذخایر ارزی: مالک اصلی ذخایر ارزی مردم افغانستان است. این ذخایر در گذشته و حال مربوط به حکومت ها، احزاب و گروه ها نبوده و مطابق به خواست یا تصمیم آنها استفاده نیز نگردیده است.

۳– مدیریت ذخایر ارزی: ذخایر ارزی افغانستان با درنظرداشت اهداف مشخص، مطابق به معیار های پذیرفته شده جهانی مدیریت میگردد. وضعیت این ذخایر را د افغانستان بانک به طور دوامدار با دقت زیر نظر دارد. یک بخش از ذخایر ارزی حسب اصول پذیرفته شده در ایالات متحده امریکا سرمایه گذاری گردیده تا با حفظ مصئونیت آن، در صورت نیاز جهت رسیدن به اهداف تعیین شده،در اختیار د افغانستان بانک قرار گیرد.

بنابراین د افغانستان بانک، تصمیم اخیر ایالات متحده امریکا در خصوص مسدود نمودن ذخایر ارزی و اختصاص آن به اهداف غیر مرتبط را در حق مردم افغانستان غیر عادلانه دانسته و هیچگاه نمی پذیرد که ذخایر ارزی افغانستان تحت نام غرامت یا کمک های بشری به اختیار دیگران قرار داده شود و خواهان تجدید نظر در این زمینه و آزاد سازی تمام ذخایر ارزی است.





**بیایید با استفاده از افغانی در معاملات**
**روزمره اقتصادی، به ثبات آن بیافزاییم!**

# بانک

ماهنامهٔ د افغانستان بانک

سال پانزدهم شماره ۱۷۵ دلو ۱۴۰۰





## هموطنان گرامی!

**پول ملی ما افغانی است، مسئولیت همه ما است تا در هنگام داد و ستد و معاملات پولی روزمره در قسمت حفظ و نگهداشت پول افغانی نهایت توجه نموده و از فرسوده شدن زود هنگام آن جلوگیری نماییم.**